Wednesday, March 18, 2015

یک کتاب یک افغانی

Download from: aghalibrary.com


# د حمزه بابا شعرونه
# امير حمزه شنواري

لکه کاروان په تورو شپو تيريګي
داسي مي اښکي په ليمو تيريګي

زړګيه راز د ميني پټ وساته
خير دي که ژوند په اسويلو تيريګي

چي يو غريب شي بل تري يار شي جدا
وايه چه څه به په هغو تيريګي

په ژوند به نه درځم چي ته خوشحاله يي
حمزه به مړ سته په کوڅو تيريګي




## د مور مقام
## سته د قدم لاندي جنت دي موري

Download from: aghalibrary.com

ځومره خالص سته محبت دي موري

ځمه هر غم ته په خپل ځان تیروي
مینه خو سته د خداي رحمت دي موري




## رحمت شاه سایل

چې په خندا ورته د خوږ زړه پرهرونه نشي
چیرې دې هم ستا د ښایست غوټۍ ګلونه نشي
راشه مظلوم زړه مې په یو نظر یوه لمبه کړه
چې په ظالم زړګي دې پاتې ارمانونه نشي
بیا د جنون مستي ځواني غواړي د مستې مینې
بیا چیرته خیال د تورو زلفو ځنځیرونه نشي
په دُعاګانو مې د خوږ زړګي دردونه نه ځي
څو چې ښیرې د شونډو ترم ټکورونه نشي
وړې مې د روح جنازه چیرته د خندا په اوږو
په وینو سره دې ترې شینکي شینکي خالونه نشي
د نظر غشي مې په زړه باندې په پام اوروه

Download from: aghalibrary.com

**چیرته زخمي پکې دا ستا نازک یادونه نشي**
**خاموشۍ شونډې مې لوستې بیدارېدې ویل یې**
**اورونه مه چېره لوګي دې پرې فکرونه نشي**
**ویده دنیا ای د (سائل ) قلمه مه لړزوه**
**د فریادي اوښکو مات ستوري تندرونه نشي**




**خاطر آفردي او آمیر حمزه بابا**

## خاطر وايي

ته نقاب د مخه لرے کړه بس زه به درته ګورم
د نظر پرواه ونکړے خیبر ډک د سپیلنو دے

## حمزه وايي


د نظره مه یریږه نظر ماتے دي هم زه یم
چي حمزه درنه لوګے شي سپیلنو ته حاجت نشته

Download from: aghalibrary.com










## د پښتون قوم فلسفه

**مړ شه داسي مړ شه چي وطن درپسي وژړي**
**خپل خو هسي ژړي چي دښمن درپسي وژاړي**




## زه پښتون يم


**چي مي سل ځله جوندون وي**
**زه به سل ځله پښتون يم**

**په مه دا غرونه ښايسته دي**
**زه په دي غرونو حسين يم**

**چي دا خاوره مي ليله ده**
**زه ده دي خاوري مجنون يم**


چې مې سل ځله جوندون وی
زۀ به څل ځله پښتـــــون يم
په ما دا غرونه ښائسټـــــه دی
زۀ پـــــه دی غرونو خسين يم
چـــــی دا خاوره مې ليله ده
زۀ ده دی خاوری مجنون يـــــم
ترتيب: عابد روغانی
www.facebook.com/kpk.khyber.pakhtunkhwa


ته مارکس او د لينن فلسفه ګوره
ما ته ښه ده د باباپوره او سپوره
ما لپاره خو همدغه سمندر دے
سمندر درياب ګی نه ځاييزے روره
باچا خان بابا
Abid Roghani
https://www.facebook.com/kpk.khyber.pakhtunkhw







## د پښتو شعر

که پردی میږروی آخر پردی دی
نو چی خپل می ژړوی نو ژړا راشی
مایوسی می تا نه نشته لویه خدایه
خو حالات می چه مجبور کړیژړا راشی




# غني خان بابا

**ما ته د جنت قیصي،     ځان ته د دنیا حساب**

**دا دي عجیبه انصاف،     دا دي عجیبه کتاب**

**زه په مستي سور کافر، ته په هوس سپن ملا**

**ما ته په فتوا عذاب، تا ته په دهوکه ثواب**

**اے د عدالت ربه ، دا لوبه خو ورانه که**

**مونږه انسانانو ته ، نوي لار ودانه که**







## خاطر آفریدي

**دا ستا په سترګو کي به څه پاتي شي**
**رقیبه یار که مي په خوله پاتي شي**
**یو ځلی نیغ پدی لار تیر شه آشنا**
**چي دي کاږه واږه کاته پاتي شي**
**پردی مزدورسهر وختی پاڅیږي**

د شوګیرو مین اوده پاتی شي
افسوس چي سته په خیال څه ښکارمه
دغه ارمان به مي په زړه ماتي شي
وستا یه تل د یار ترخه خاطره
چي پا کتاب کي دي خواږه پاتي شي




دا ستا په سترګو کي به څه پاتي شي
رقیبه یار که مي په خوله پاتي شي
یو ځلی نیغ پدی لار تیر شه آشنا
چي دي کاږه واږه کاته پاتي شي
پردی مزدور سهر وختی پاڅیږي
د شوګیرو مین اوده پاتی شي
افسوس چي سته په خیال څه ښکارمه
دغه ارمان به مي په زړه ماتي شي
وستا یه تل د یار ترخه خاطره
چي پا کتاب کي دي خواږه پاتي شي

## د پښتو شعرونه


زړکیه ډیرئ ګیلۍمه کوه عادت به دي شي
دا خو دنیا ده کله غم کله ښادئ به راځي




## احمد شاه بابا ، د احمد شاه بابا شعرونه

ستا د عشق له وینو ډک سوه ځیګرونه
ستا په لاره کې بایلي زلمي سرونه
تا ته راسمه زړګی زما فارغ سي
بې له تا مې اندیښنې د زړه مارونه
که هر څو مې د دنیا ملکونه ډیر سي
زما به هیر نسي دا ستا ښکلي باغونه
د ډهلي تخت هیرومه چې را یاد کړم
زما د ښکلي پښتونخوا د غرو سرونه
د رقیب د ژوند متاع به تار په تار کړم
چې په تورو پښتانه کا ګوزارونه
د فرید او د حمید دور به بیا سي
چې زه کاندم پر هر لوري تاختونه
که تمامه دنیا یو خوا ته بل خدا یې
زما خو خوښ دي ستا خالي تش ډګرونه
احمد شاه به دغه ستا قدر هیر نه کا
که ونیسي د تمام جهان ملکونه





## د پښتو شعرونه ، د پشتو شعرونه

نه مي مينه درسره ده نه په ته باندي مين يم
خو چي سوک درنه درګوري نو رقيب راته ښکاريږي




## د مسفرو شعرونه

نه غسل نه کفن نه جنازه یئ د شوشا وئ
خاطر ده مسافرو سوک نکړئ که بادشاه وئ




## د پښتو شعرونه

پښتون به نه يم چي په تا باندئ پختو اونکم
مونګ خو مانزه ته هم نياتونه په پختو کي تړو




## غني خان بابا

مه ده ټول عمر په منډه يوه کوټه آباده نه کړه
غني په تمع ده جنت دے په يوسووخته مونزونو




## خوشحال خان بابا

زه خوشحال توره به لاس کفن په غاړه به راپاسم
که خبر شوم چه پختون د چا غلام شو




## د پښتو شعرونه

زه او ته به سره یو کړو     بد او ښه به سره یو کړو
نور به تول کارونه پریږدو  پښتانه به سره یو کړو




## رحمت شاه سایل شعرونه

زما په دوارو اوړو ناستو پرښتو ولیکئ
زما په سر که څه لیکئ نو په پښتو ولیکئ
د پاکې مینې ګناه کارو چې منکر پرې نشئ
د رقیبانو الزامونه په تندو ولیـــــــــکئ
په ښایستونو پسې ورکو لېونو ملګرو
زما په زړه کې د ګل مینه په اغزو ولیکئ
زما په لاسو کې په پښو کې دیوتاګانو د وخت
د زندګۍ نوم د اجل په زولنو ولـــیکئ
د ځنځیرونو خالقانو ــ د وحشت زامنو
ما په کتار کې د ژوندون د لېونو ولیکئ
ای شاعرانو ــ د قلم په آزادۍ مینو
حال د بلوچو ماشومانو د سلګو ولیکئ
د آزادۍ عالمبردارو د نړۍ قامونو
اوس د نړۍ نقشه کې کور د پښتنو ولیک

زما په دوارو اوړو ناستو پرښتو ولیکئ
زما په سر که څه لیکئ نو په پښتو ولیکئ
د پاکې مینې ګناه کارو چې منکر پرې نشئ
د رقیبانو الزامونه په تندو ولیـــــــــکئ
په ښایستونو پسې ورکو لېونو ملګرو
زما په زړه کې د ګل مینه په اغزو ولیکئ
زما په لاسو کې په پښو کې دیوتاګانو د وخت
د زندګۍ نوم د اجل په زولنو ولـــیکئ
د ځنځیرونو خالقانو ــ د وحشت زامنو
ما په کتار کې د ژوندون د لېونو ولیکئ
ای شاعرانو ــ د قلم په آزادۍ مینو
حال د بلوچو ماشومانو د سلګو ولیکئ
د آزادۍ عالمبر دارو د نړۍ قامونو
اوس د نړۍ نقشه کې کور د پښتنو ولیکئ

post by : Abid Roghani
رحمت شاه سائل

## حمزه بابا شعرونه

**ورانه دا دنیا کړه ربه بله دنیا جوړه کړه**

**دا ډکه د غم ده یو بې غمه دنیا جوړه کړه**

دلته ځوک حاکم دی ځوک محکوم او ځوک آقا غلام

نه وی چه تضاد پکښی یوه سمه دنیا جوړه کړه

دا ده د فرعون ، هامان ، شداد او د قارون دنیا


نه وی ظلم زور چې پکښی دغه دنیا جوړه کړه

دلته خاوندان د محلونو دی خدایان ربه

بله بس د ختو بی محله دنیا جوړه کړه

وایم زه حمزه ربه په کار کښی دی کار نه لرم

هسی می خیال راغی یو بدله دنیا جوړه کړه




## زمه په ژوند راشه

**زمه په ژوند راشه چي زه دي قدمونه ښکل کړم**